# د قيامت په ورځ به د بنده دواړه قدمونه له خپله ځايه پورته نه شي تر څو ترې د هغه د عمر په اړه پوښتنه وشي چې په څه کې يې تېر کړی، او د علم په اړه چې څه عمل يې پرې کړی، او د مال په اړه چې له کومې لارې يې تر لاسه کړی او په کومه لاره کې يې لګولی، او د بدن په اړه چې په څه کې يې زوړ کړی دی

له ابو برزة الأسلمي رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «د قيامت په ورځ به د بنده دواړه قدمونه له خپله ځايه پورته نه شي تر څو ترې د هغه د عمر په اړه پوښتنه وشي چې په څه کې يې تېر کړی، او د علم په اړه چې څه عمل يې پرې کړی، او د مال په اړه چې له کومې لارې يې تر لاسه کړی او په کومه لاره کې يې لګولی، او د بدن په اړه چې په څه کې يې زوړ کړی دی».
[صحيح] [ترمذی روايت کړی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې هېڅوک به د قيامت په ورځ د حساب له ځای څخه جنت يا دوزخ ته تېر نه شي تر دې چې د څلورو کارونو په اړه ترې پوښتنه وشي. لومړی: ژوند يې چې په څه کې يې تېر کړی؟ دويم: علم يې؛ چې آيا د الله لپاره يې زده کړی؟ او ايا عمل يې پرې کړی؟ او يا مستحق کس ته يې رسولی؟ دريم: د مال په اړه چې له کومه يې کړی، له حلالو دی که له حرامو؟ او په څه کې يې لګولی؛ په هغه څه کې يې لګولی چې الله راضي کوي کنه په هغه څه کې چې الله ناراضه کوي؟ څلورم: د جسم، روغتيا او ځوان په اړه يې چې په څه کې يې تېره کړې او کارولې ده؟

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4950